**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# د ډینګو ساري ناروغي: رژیم هغه خبرونه چې ګواکي دوی په دې اړه ډېر بې پروا دي خالي ګنګوسې بولي

# یوازې د خلافت دولت کولای شي د خلکو روغتیا ته ځانګړې پاملرنه وکړي

د بنګله دېش خلک پوهېږي چې په دې اړه رژیم له ډېرې بې پروایۍ کار اخلي. د ډاکه ښار ټول د ډینګو ناروغۍ نیولی او همدا ناروغي په راتلونکې کې ښایي ټول هېواد ونیسي. په هرو دوو دقیقو کې یو کس د ډینګو په ناروغۍ اخته کېږي. روغتونونه هڅه کوي په ناروغیو د ډېرو کسانو د اخته کېدو مخنیوی وکړي، خو بیا هم هره ورځ په همدې ناروغۍ د اخته کېدو او مړګونو خبرونه اورېدل کېږي. سر بېره پر دې چې د ډینګو ناروغۍ له خپرېدو وړاندې په دې اړه اندېښنې وې، خو بیا هم دې بې پروا رژیم د «ایدس» غوماشې چې د ډینګو اصلي لامل بلل کېږي مړې نکړې او نه یې هم د دوی د زېږېدو ځایونه پاک کړل؛ په پای کې، د غوماشو شمېر لس ځلې نور هم ډېر شو. نه یوازې د دوی بې پروایي، بلکې فساد یې هم په ډاګه شو. کوم معاینات چې د ICDDR,B او د ناروغیو د کنټرول مرکز له لوري تر سره شوي په ډاګه کوي چې د دوو ښاري کمپنیو له لوري د غوماشو وژلو درمل څخه ګټه اخیستل اغېزمن نه دي ـ ځکه چې د ایدس غوماشې نه وژني. خو وروسته له دې چې د مې په ۲۲مه دغه رپوټ خپور شو، د ډاکه جنوبي ښار کمپنۍ (DSCC) له دې درمل څخه ګټه اخیستلو ته دوام ورکړ! تر څو خپلې نیمګړتیاوې وپوښي، خو د دغه رژیم سپین سترګو وزیرانو او ښاروالانو له دې درمل څخه ګټه اخیستل اغېزمن بولي او ادعا کوي چې غوماشې ډېرې غښتلې دي چې درمل پرې ځانګړې اغېز نه کوي، یا وایي چې ناروغان د تداوۍ لپاره روغتونونو ته نه ځي او حتی د روهینګا پر مسلمانانو ملنډې وهي او وایي چې د غوماشو زېږېدل لکه د روهینګا مسلمانانو په څېر ډېر دي!

د داسې یو بحراني وضعیت په اړه له بې پروا ځرګندونو وروسته، رژیم خپلې نیمګړتیاوې لکه د ولسمشر ټرمپ نیمګړتیاوو په څېر چې کله د کومو مطبوعاتو له لوري خپرې شي یوازې جعلي خبر او د خلکو ګنګوسې بولي! کله چې خبري رسنیو په دغه ناروغیو د اخته کسانو دقیق شمېر او مرګ ژوبله خپره کړه، د جنوبي ښار ښاروال دغه خبر یوه ګنګوسه وبلله او ویې ویل چې د ماشومانو د اختطاف او د ډینګو له امله د ۳۵۰ زره کسانو د مړینې دسیسه یوه سرچینه لري او پټکه یې وکړه چې حکومت به د دوی پر وړاندې ګام اخلي او جزا به ورکوي.

اې مسلمانانو! د خلکو په درد او ناروغیو باندې د وزیرانو او ښاروالانو ملنډې وهل د وژونکې ډیموکراټیک سیکولر نظام وژونکې مېوه ده چې دوی یې تولید او په سیاست کې ذوب کړې دي. بیا له قوانینو څخه ها خوا ولاړ وې؛ ځکه چې دوی هېچا ته حساب ورکوونکې نه دي، او بې قانوني ورځ تر بلې پراخېږي. وروسته چې کله خلک د دوی د جرمونو پر وړاندې ودرېږي، دوی بیا د هغوی د ځپلو لپاره له نویو تکتیکونو څخه کار اخلي. ځکه چې یوازې د دغه قانون نه منل کافي نه، بلکې موږ ته ښایي چې ټول

ډيموکراتيک نظام ونه منو او د الله تعالی له لوري رالیږل شوی نظام (راشده خلافت) بېرته بيا د نبوت پر اساس رامنځ ته کړو.

اي مسلمانانو! تاریخ شاهد دی چې د خلافت تر سیوري لاندې خلکو پرته له دې چې د دوی دین او نژاد په نظر کې ونیول شي په غوره روغتیایي وضعیت کې له نورو ټولو حقوقو سره یو ځای له ژوند خوند اخیستلو. د خلافت په بیا رامنځ ته کولو سره، خلک لکه د ډينګو ساري ناروغيو او وبا څخه ژغورل کېږي، ځکه په دغه نظام کې د دولت مشر (خلیفه) د دغه خلکو مسوولیت د شریعت له لوري پر ځان واجب بولي او د دغه واجب په ترسره کولو سره غواړي د الله تعالی رضایت تر لاسه کړي. رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:

»مَا مِن أَمِيرٍ يَلِي أُمورَ المُسلِمينَ، ثُمَّ لا يَجْهَدُ لَهُم ويَنْصَحُ لهُم؛ إلَّا لَم يَدخُل مَعَهُمُ الجَنَّةَ«

«هر څوک چې د مسلمانانو د کوم شي مسئولیت پر غاړه اخلي او د دوی اړتیاوو، بېوزلۍ او غوښتنو ته ځواب نه مومي، الله تعالی به د آخرت په ورځ د ده خپلې اړتیاوې، بېوزلي او غوښتنې له پامه غورځوي.» [ابو داود]

د روغتیا په اړه، د حزب التحریر د لیکل شوي اساسي قانون په ۱۶۴مه ماده کې ويل شوي دي: «دولت د ټولو خلکو لپاره وړيا روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي، سربېره پر دې د شخصي روغتیايي خدمتونو او درمل پلورلو مخنیوی هم نه کوي». اسلام روغتیا او تداوی ته د سوداګریزو توکو په سترګه نه ګوري، بلکې د خلکو یوه مهمه اړتیا يې بولي. له همدې امله، د خلافت دولت پرته له دې چې شتمن او بېوزله وګړي په نظر کې ونیسي روغتیايي خدمتونه د بنسټیزې اړتیا په توګه په وړيا توګه وړاندې کوي. د روغتیايي څېړنو د سټندرډ کولو لپاره کافي پيسې ځانګړې کوي. «ما أنْزل اللَّه داءً إلا أنْزل لَهُ شفاء»... په حقیقت کې الله تعالی تر هغه وخت پورې ناروغی نه پیدا کوي تر څو چې يې د هغه لپاره درمل نه وي جوړ کړی. پرته له یوې ناروغی چې هغه زوړ عمر دی. [الترمذی].

ساینس پوهان د خلافت تر چتر لاندې د څېړنو او پرمختګ لپاره چې نوی درمل او تداوي ومومي هڅول کېږي. له همدې امله د ډينګو او ایبولا ویروسونو پر وړاندې پرته له دې چې د ګټې لپاره يې اندېښنه وکړي، ګام اخیستل کېږي. تر څو د وبا او ساري ناروغیو مخنیوی وکړي، دولت لکه د عمر رضی الله عنه په څېر اړین ګامونه پورته کوي لکه څرنګه چې په سوریه کې خلیفه د وبا د مخنیوي لپاره ګام پورته کړی وو، «کله چې په یوه سیمه کې وبا خپره شي، هېڅوک نه شي کولای هغه ځای پرېږدي یا هم ورشي». له همدې کبله، که چېرته هلته کومه وبا خپره وي خلیفه هغه ځای قرنطین کوي او هلته د اړتیا وړ درمل او نورې روغتیايي اړتیاوې ډېر ژر پوره کوي.

اي مسلمانانو! موږ تاسو هغه سپېڅلي نظام ته رابولو، چې د رب له لوري زموږ لپاره ټاکل شوی. د دغه مجرم واکمنانو او د دوی د نظام بار له خپلو اوږو ښکته کړئ، او نور د دوی د بې پروايئ او ظلم ښکار مه ګرځئ او د حزب التحریر تر مشرۍ لاندې د راشده خلافت د بیا رامنځ ته کولو لپاره لستوڼي بډ وهئ.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

(وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنْ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ)

«که د سيمو خلکو ايمان راوړی وای او د پرهېزگاری کړنلاره يې غوره کړې وای، نو موږ به پر هغو د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانېستې وای.

**حزب التحرير ولايه بنګله دېش مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰ه.ق کال د ذوالقعدې ۲۶ مه**

**۲۰۱۹م کال د جولای ۲۹ مه**

**د صدور شمېره: ۳۱/۱۴۴۰**